**بسم الله الرحمن الرحیم**

## الله تعالی روژه فرض کړې ده

**(ژباړه)**

له طلحه بن عبیدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي:

«**جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم ثَائِرَ الرَّأْسِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي مَاذَا فَرَضَ اللَّهُ عَلَيَّ مِنَ الصَّلاَةِ فَقَالَ: "الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ، إِلاَّ أَنْ تَطَّوَّعَ شَيْئًا". فَقَالَ أَخْبِرْنِي مَا فَرَضَ اللَّهُ عَلَيَّ مِنَ الصِّيَامِ فَقَالَ: "شَهْرَ رَمَضَانَ، إِلاَّ أَنْ تَطَّوَّعَ شَيْئًا". فَقَالَ: أَخْبِرْنِي بِمَا فَرَضَ اللَّهُ عَلَيَّ مِنَ الزَّكَاةِ فَقَالَ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم شَرَائِعَ الإِسْلاَمِ. قَالَ وَالَّذِي أَكْرَمَكَ لاَ أَتَطَوَّعُ شَيْئًا، وَلاَ أَنْقُصُ مِمَّا فَرَضَ اللَّهُ عَلَيَّ شَيْئًا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: "أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ، أَوْ دَخَلَ الْجَنَّةَ إِنْ صَدَقَ.**» (رواه بخاري: 1891)

***ژباړه:*** *یو اعرابي (کوچی) چې شړل وېښتان یې وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: ای رسول الله! ما په دې پوه کړه چې الله تعالی له لمانځه څخه څه شی پر ما فرض کړي دي؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "په یوه شپه و ورځ کې یې پنځه وخته لمونځ فرض کړی دی؛ مګر دا چې نفل وکړې." اعرابي وویل: ما په دې پوه کړه چې الله تعالی له روژې څخه پر ما څه شی فرض کړي دي؟ ویې فرمایل: "د رمضان میاشتې روژه، مګر دا چې پخپله نفلې روژې ونیسې." بیا یې وویل: ما په دې پوه کړه چې الله تعالی له زکات څخه څه شی پر ما فرض کړي دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم نوموړی د اسلامي شریعت له احکامو څخه خبر کړ. کوچي وویل: قسم پر هغه ذات چې تا ته یې لویي درکړې، هغه څه چې الله پر ما فرض کړي، له هغو سره به نه څه زیات کړم او نه به څه ترې کم کړم. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "دې سړي که رښتیا ویلي وو، نو بریالی دی، یا داسې یې وویل: که ده رښتیا ویلي وي، نو جنت ته به داخل شي."*

دغه حدیث شریف موږ ته امر کوي، چې فرضو ته ژمن پاتې شو او په هغو کې څه کمی ونه کړو. موږ اوسمهال د رمضـان مبارکې میاشـتې په لومړیو ورځو کې یو؛ هغه میاشـت چې قرآن کریم پکې نازل شـوی دی او په دې میاشـت کې روژه نیول پر موږ فرض شوي دي. د رمضان میاشتې د شپو قیام مندوب او تشویق شوی دی، ترڅو په دې میاشت کې الله تعالی ته د نږدېوالي لپاره نېک عملونه، د رب د خوښې لپاره شوق او د هغه جنت لپاره هیلې زیاتې شي، چې الله تعالی د خپلو نېکو او مخلصو بنده‌ګانو د عملونو په بدل کې چمتو کړی دی.

لکه څنګه چې الله تعالی د مخکنیو امتونو په څېر پر موږ لمونځ فرض کړی، روژه یې هم د هغوی په څېر پر موږ فرض کړې ده؛ پر مسلمانانو یوازې د رمضان میاشتې روژه فرض شوې ده او که پر روژې سربېره علاقه او نفل هم ور زیات شـي، په مقابل کې یې روژه‌نیوونکي کس ته بدله ورکول کېږي. همدارنګه که چېرې له الله تعالی سره صادق وو، نو زموږ بدله به جنت وي.

دلته په دې موضـوع کې یوه نکته ډېره مهمه ده، چې هغه له صـدق سـره د بدلې اړیکه ده. پر همدې اسـاس د هغه کس بدله جنت دی، چې له ریا پرته په اخلاص سره د الله عبادت وکړي.

پر موږ مسـلمانانو لازمه ده چې پخپلو خبرو او کړنو کې باید رښـتیني وو او په عمل کې اخلاص د عبادت یوه نه بېلېدونکې برخه ده، چې الله ته د نږدې کېدو لپاره یې ترسره کوو، ترڅو جنت ترلاسه کړو او د دوزخ له اور څخه وژغورل شـو! موږ باید په پوره اخلاص سـره د الله تعالی عبادت وکړو، ترڅو په ځان کې د رب لپاره د بنده صفت پیـدا کړو، له دې پرته به څنګه د الله تعالی بنده‌ګان وو؟ په داســې حال کې چې هغه عبادي عملونه چې الله تعالی پر موږ فرض کړي، د هغه سبحانه وتعالی له رضایت سره سم یې په شوق او دوام نه ترسره کوو.

یوازې لـه اللـه تعـالی څخه غواړو چې زموږ عملونه قبول کړي، یوازې د ځان لپاره یې خالص کړي او موږ له هغو مخلصـو بنده‌ګانو څخه وګرځوي، چې له هغه سبحانه وتعالی سره څه نه شریکوو! له الله تعالی څخه غواړو چې موږ په جنت کې له خپلو صادقو او صالحو بنده‌ګانو سره یو ځای کړي! الله آمین!

**لیکوال: دکتر ماهر صالح**

**ژباړن: صهیب منصور**